# دمحمدعمر ننګيار لنډه پيژندنه

محمدعمر ننګيار دعبدالقيوم زوی په کال ۱۳۳۱ه ش.دکابل ښار په ده افغانانوکې په يوي روښانفکره کورنۍ کې زيږيدلې دی.لومړی اوثانوي زده کړي يې په کابل کې بشپړي کړي،اوبيادکابل پوهنتون دټولنيزوعلوموا وفلسفي پوهنځي له پای ته رسولووروسته-څرنګه چې دتحصيل په دوره کې يې دراډيودهنراوادبياتوداداري سره همکاري درلوده-په۱۳۵۸ه ش.کال دراډيواوټلويزيون دهنراوادبياتوداداري دپښتوډرام اوډيالوګ په څانګه کې رسماً په کارپيل وکړ. هلته يې دراډيوډرامونه،دراډيوپرله پسې داستانونه اوراډيويي نمايشنامي ليکلي.همدارنګه،ټلويزيوني نمايشنامي،اودلنډوفلمونوسناريوګاني چې ترټولويي د،تنکی هڅي،په نامه يونيم ساعته ټلويزيوني هنري فلم داستان اوسناريواود(مبارك دي شه)ټلويزيوني کوميډي نمايشنامه چې ښاغلي داودفاراني ډايرکټ کړی وه،دياد ولووړ دي.

ننګيار د۱۳۶۰ه ش.کال څخه وروسته دښاغلي جلال نوراني اوځينوبهرنيونامتوليکوالوطنزونه په پښتووژباړل چې دهغه وخت دراډيواوټلويزيون دخپرني ارګان(آوازمجلي)له لاري خپريدل.په ۱۳۶۴ه ش.کال کې يې خپله طبعه په طنزليکلوکې وازمايله چې دآوازمجلي،انيس،پامير،اوکارپه ورځپاڼواوجريدوکې خپريدل.د(پردي)په نامه طنزيې په۱۳۶۵ه ش .کال دويمه ادبي-هنري جايزه هم ګټلي ده.

دننګيارطنزونه دټولنيزي هستۍ دواقعيتونوښکلي هنداري دي چې دښی هنري اوادبي پانګې په ښکلاپسولل شوي دي.دده ټول طنزونه همداسي دي.فکري ژورتيا،څکه چې دي دفلسفي شاګرددی.هنري پانګه،څکه چې دي خپله هنرمنددی،ادبي اډانه اونګه ژبه،څکه چې دي دمطالعي سړی دي،لوړفرهنګي تخليقات اوپه هغه کې دهنري تومنوروزنه،څکه چې دکابل دښارکولتوري اومدنی ژوندانه اوپاسته اقليم اودکونړددري(خاص کونړ)ددووخواوو هسکوشنوغرونوپرتم اود(تيتك)دغره لمنی ته دمست بهانده سيندغړمبادهغه د طببيعت تومنه جوړوي.

ننګیارلـــه۱۹۹۲ع کــال نـــه وروســـته پـــه مســـکوکې دپردیســـۍ شـــپې اوورځـــې تیـــروې اوپـــه دې هیلـــه دي چـــې پـــه ګـــران وطـــن کـــې داســـې حـــالات رامیـــنځ تـــه شـــي چـــې دنوروپردیسوهیوادوالوســـره یوځـــای دخپـــل هیـــوادغیرې تـــه ســـتون شـــي.(پـــه ده څـــه شوي؟دښـــاغلي عمرننګیاردطنزونولومړنۍ چاپي دفتردی چې ستاسوپه لاس کې دی.